مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال ۲۰۲۱/۰۵/۰۵

# ويده ولسونه
# او
# ويښ ملتونه

ويده ولسونه تر لويو غميزو سل کاله روسته، د هغې دورې خاطرې لولي، تېروتنې يې شماري، هڅه کوي هغه دوست و دوښمن وپيژني، چې اوس خاوري شوي دي .

مورږ اوس د اماني دورې په اړه په تاريخي لانجو بوخت يو، اوس ګوډ ملا او سقوي ارتجاعي اړدوړ ښکنځو، اوس په مشروطه نهضت پسې لاسونه مروړو...

اوس د شوروي د وخت خاطرات لولو، د اپرې تلک، د ګروموف خاطرات او نور چټيات...
ويده ملتونه په نوستالژيو کې ژوند کوي ...

خو،

ويښ ملتونه د تېرو تجربو پر مټ، همد اوس تحليلوي او عمل کوي. خپل برخليک ټاکي، همدا نن خپل دوست و دوښمن تشخيصوي او ان پر دې فکر کوي، چې څوک يې د سبا په اړه څه نيت لري؟ مورږ اوس غلي ناست يو، وېره خپروو، تمسخر کوو، ښکنځلي، ښېراوې، دعاګاني يا...

سل کاله روسته به بيا ناولونه ليکو، دا جګړه به د پېريانو جنګ ګڼو، د استخباراتي منصبدارانو خاطرات به لولو او لمسي به مو پرخپلو نيکونو (چې همدا مورږ يو) لعنتونه وايي او بې ارادي و لټ به مو ګڼي.



اوس مو نو خوښه، چې څه کوئ؟
په مړو ولسونو کې راځئ،
که په ويدو کې؟
يا هم د لومړي ځل لپاره د يوه ويښ ملت
په توګه سره راخوځيږئ؟
خوښه مو خپله !
-
#پوښتني وکړئ، پوښتني ښني دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ